دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

دلوړو زده کـــــــــــــــړو وزارت

دعوت پوهنتون خوست څانګه

سېول ډیپارټمینټ

لیسانس دورې پایلیك

# په سروې کې د پرمختللي تکنالوژۍ استعمال

# (Advance Technology in Surveying)



Ketabton.com

**لارښود استاد:** **انجینر محمد الله احمدي**

**ترتیب کوونکی:** **انجینر هارون حنیف**

**کال**.............................................................................۱۳۹۸هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپلو ښوولو محترمو استادانو ته چې زما سره يې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کړي. په خاص ډول استاد نقيب احمد، ريدي ګل، محمدالله، نعيم الله او نور... او بيا خپل ګران پلار جان ته چې تل يې دا هيله درلودلي ترڅو ما د يوه پوه، هوښيار او رسېدلي انجينر په جامه کې ويني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننليک

حمد وثنا پاك رب لره او بيا ډېره مننه د ګران استاد محمد الله احمدي څخه چې زما سره يې ددغه پايليك په ترتيب او تهيه کې نه ستړي کيدونکي هلې ځلې کړي. او په پای کې زما دواليدېنو، وروڼو، کاکا ګانو څخه چې ما ته يې ددرس ويلو زمينه مساعده کړي او په هر ډول شرايطو کې زما مالي او مادي ملاتړ کړی.

په درنښت!

انجنيرهارون «حنيف»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مطالبو لړلیک


سریزه ........................................................ 1

۱.۱. عمومیات (General) ........................................................ 2

د سروې هدف (Objective of Surveying) ........................................................ 2

پلان (Plan) ........................................................ 2

نقشه (Map) ........................................................ 3

۱.۲. لېول کاري (Leveling) ........................................................ 3

۱.۳. تعریفونه (Definitions) ........................................................ 4

لېولېنګ (Leveling) ........................................................ 4

لیول سطحه (Level Surface) ........................................................ 4

لېول خط (Level Line) ........................................................ 4

افقي سطحه (Horizontal Plane) ........................................................ 5

افقي خط Horizontal Line ........................................................ 5

عمودي خط Vertical Line ........................................................ 5

بېنچ مارک (Bench Mark BM) ........................................................ 5

دبېنچ مارک ډولونه ........................................................ 5

لوی مثلثاتي سروې بېنچ مارک(Great trigonometry Bench Mark GTS) ........................................................ 6

دایمي بېنچ مارک (Permanent Bench Mark) ........................................................ 6

موقت بېنچ مارک (Temporary Bench Mark) ........................................................ 7

فرضي بېنچ مارک (Arbitrary Bench Mark) ........................................................ 7

شا خواته قراءت (Back Sight BS) ........................................................ 7

مخې خواته لوستل (Fore Sight FS) ........................................................ 7

منځني قراءتونه (Intermediate Sight IS) ........................................................ 7

بد لیدونکي یا تا ویدونکي نقطه ( Change, Turning Point) ........................................................ 7

د لېول ما شین ارتفاع (Height Of Instrument HI ) ........................................................ 8

۱.۴. په موقتي توګه د لېول ماشین عیارول (Temporary Adjustment of Level) ........................................................ 8

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لېول ماشين د عيارولو مرحلې.......... 8
هغه نقطې چې باید د Staff Man لخوا په نظر کې ونيول شي.......... 8
هغه نقطې چې باید د Level Man له خوا په نظر کې و نيول شي.......... 9
۱.۵. د لېولېنګ د عملیو ډولونه (Types of Leveling Operations).......... 9
a) ساده لېول کاري.......... 9
b) تفاضلي لېول کاري (Differential Leveling).......... 10
c) Fly Leveling.......... 10
d) پروفایل لېول کاري (Longitudinal or Profile Leveling).......... 10
e) Cross Sectional Leveling.......... 11
f) له دوه خواو لېول کول (Reciprocal Leveling).......... 11
۲. ټوټل ستیشن (Total Station).......... 12
۲.۱. د ټوټل ستیشن پيژندنه.......... 12
د ټوټل ستیشن برخې (Parts of Total Station).......... 12
پرزم (reflector).......... 13
سه پایه (tripod).......... 13
ACCURACY OF TOTAL STATION.......... 14
۲.۲. د ټوټل ستیشن د کیبورډ تشریح (Keyboard).......... 15
د کیبورډ د بټنو تشریح.......... 15
Functions of T.S.......... 16
Application of Total station.......... 16
۲.۳. د ټوټل ستیشن عیارول (Adjustment of Total Station).......... 17
په BM برابرول.......... 17
۲.۴. د ټوټل ستیشن ترتیبول (Total Station's Configuration).......... 17
۲.۵. د کاري فولډر جوړول (JOB).......... 17
کاري فولډر ته د خپلې خوښې نوم ورکول.......... 18
د کاري فولډر ډیلیټ کول.......... 18
د DATA لیږدول USB ته.......... 19

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.۶. د ټوټل سټیشن په واسطه د مساحت پیداکول (Area Calculation by TS)........................................................19
۲.۷. د ټوټل سټیشن په واسطه د ارتفاع پیداکول (REM )........................................................................19
۲.۸. د کوردیناتو دا خلول په TS کې........................................................................................20
۲.۹. د ټوټل سټیشن په واسطه توپوګرافي سروې(Topographic Survey )........................................21
۲.۱۰. د ټوټل سټېشن په واسطه خط اندازي(S-O Line )..........................................................22
۲.۱۱. MLM (Missing Line Measurement)...........................................................................23
د MLM داستعمال طریقه.............................................................................................23
۲.۱۲. 0-SET (Theta Set)......................................................................................................24
۲.۱۳. دقوس رسمول ( S-O ARC )........................................................................................24
Limitations.....................................................................................................................26
د خوندیتوب خبرتیاوې (SAFETY PRECATIONS )..............................................................26
څه ډول کولای شو د ټوټل سټیشن کارونه اداره کړو(How to Supervise TS works)...........................26
3. GPS پیژندنه.................................................................................................................27
د GPS برخې....................................................................................................................27
۳.۱. د GPS برخې..................................................................................................................29
فضایي برخه (Space Segment).....................................................................................29
کنترولي برخه (Control Segment)...................................................................................29
د کارکونکي برخه (User Segment)...................................................................................30
۳.۲. د GPS ډولونه Types Of GPS.........................................................................................31
۳.۳. د GPS څخه کار اخیستل................................................................................................32
۳.۴. د کوردیناتو سیستم (Coordinates System)....................................................................33
پایله..............................................................................................................................34
وړاندیزونه.......................................................................................................................35
مآخذونه..........................................................................................................................36

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د لوی ښتن ستر شکر اداء کوم چې ماته یې ددې وړتیا راکړه چې دانجنیري پوهنځی څخه د فارغیدو په درشل کې دادی اوس د پای لیك (مونو ګراپ) لیکم. داچې دځمکې سروې دانجنیري له اساسي او اختصاصي موضوعګانوڅخه یوه ده، نو ما هم و غښتل چې خپل پایلیك (په سروې کې دپرمختللي تکنالوژۍ استغمال) تر عنوان لاندې دغه موضوع ته ځانګړی کړم.

په ننۍ نړۍ کې د پرمختللي تکنالوژۍ څخه په سروې کې د استغمال موارد دومره زیات شوي دي چې زه به و نه توانیږم ترڅو په دغه کوچني منو ګراپ کې دهغوی ټولو څخه په مفصل ډول بخث وکړم. په دغه پایلیك کې ما هڅه کړې ترڅو د امکان ترخده ټول هغه نوي ماشین آلات او تکنالوژۍ ته ځای ورکړم، لکه لېول ماشین، ټوټل سټیشن او جي پي ایس چې دنني دور د سروې په اجراء کې ورڅخه استفاده کیږي.

خدای دې وکړي چې زما څخه وروسته زما وروڼه محصلین ددغه مونو ګراپ څخه سالمه استفاده، او زما لپاره د دعاء التماس وکړي.

په درنښت!

انجنیر هارون حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱.۱. عمومیات (General)

سروې هغه هنر او پوهې ته ویل کیږي چې دهغې په مرسته دځمکې دمخ دنقطو نسبتي ارتفاعات، نسبتي افقي فاصلې او دخطونو ترمنځ افقي او عمودي زاویې تعین او دځمکې دمخ ټول تفصیلات یا عوارض دنقشې پر مخ باندې وښودل شي. سروې دپخوانیو هنرونو له جملې څخه ده چې دخلکو له خوا په کار وړل کیده پخواني شواهد دا ښایي چې دسروې اصول او قواعد په پراخه توګه کارول کیدل.چې اوس په قانوني بڼه کارول کیږي.

دسروې پیژندنه او ارزښت د انجنیري ټولو برخو پوري اړه لري. د سروې په اړه هغه روزنې چې زده کوونکي یې ترلاسه کوي دانجنیري مسلك په اړه د مشاهده کولو ثبت کولو، د معلوماتو د محاسبه کولو او همدارنګه دغلطیو دعواملو او تاثیراتو د مطالعه کولو څخه عبارت دي.

سروې دیو سېول انجنیر لپاره د ځانګړي ارزښت درلودونکي ده، چې دیوې پروژې لپاره دهغه دجوړیدو څخه مخکې د ساختماني کارونو په جریان کې او همدارنګه د ساختماني کارونو د اجراء څخه وروسته ترسره کیږي، چې نن ورځ سروې یو مهم مسلك ګرځیدلی دی. او دسروې د اصولو او عمالیو پیژندنه د انجنیري مسلك بنسټیزه برخه ده. دسردې علم دیو انجنیر وړتیا زیاتوي او همدارنګه یو انجنیر ته ددې وړتیا ورکوي، ترڅو دیو کار په هکله په شکل سره فکر وکړي، په خپل ځان باندې یې باور زیات شي، په ګروپ کې د کار کولو سره روږدی شي، داسنادو په ټولولو کې پاکي او احتیاط وکړي.

### د سروې هدف (Objective of Surveying)

دسروې اساسي هدف دپلان نقشې ترتیبول دي. همدارنګه سروې دیوې پروژې لپاره د لومړنیو معلوماتو یا ارقامو د راټولو علم ته هم ویل کیږي. سروې د لومړي ځل لپاره په پخواني مصر او یونان کې منځ ته راغلې ده. چې نن ورځ د سروې څخه په ټولو مدني او صنعتي ودانیو، هوایي میدانونو، تونلونو، کانالونو سرکونو، دریل پټلیو او د انجنیري ټولو تآسیساتو اوشبکو د طرخه ریزۍ لپاره لومړی سروې اجراء کیږي.

### پلان (Plan)

پلان دځمکې دمخ د نسبتآ کوچنۍ برخې مرتسم ته ویل کیږي. چې په پلان کې یواځې افقي فاصلې ښودل کیږي او د پلان مقیاس نسبتآ لوی وي، لکه دیو تعمیر پلان، دخوست ښار پلان او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نقشه** (Map)

نقشه دځمکې د مخ نسبتآ لوې برخې مرتسم ته ویل کیږي، چې په نقشه جعرافیوي شبکه ښودل کیږي. په نقشه کې نسبتآ د کوچني مقیاس څخه ګټه اخیستل کیږي لکه دنړۍ نقشه، دافغانستان نقشه او نور...

## ۲.۱. **لیول کاري** (Leveling)

**پیژندنه**: لیول کاري هغه عملیه ده چې د نقطو ترمنځ د نسبتي ارتفاع د اندازه کولو او په مختلفو سطحو کې د نقطو ترمنځ د ارتفاع د توپیر د پیداکولو لپاره په کار وړل کیږي. د نقطو مو قعیت د یوې بلې نقطې څخه که هغه لوړه او یا ټیټه پرته وي د هماغه نقطو د ارتفاع په نامه یادیږي. او یا کولای شو ووایو، دنقطو ارتفاع دهغه عمودي فاصلې څخه عبارت ده چې نوموړي نقطې یې دیوې معلومې سطخې (Datum) څخه لري.

لکه څرنګه چې دیوې نقطې ارتفاع ته عمودي کوردینات هم ویل کیږي، نو کولای شو ووایو چې دیوې نقطې کوردینات کیدای شي مثبت او یا منفي وي. که چیرې نقطه د ماخذ سطخې څخه پورته واقع وي د مثبت ارتفاع درلودونکي ده او که ښکته واقع وي دمنفي ارتغاع درلودونکي ده. ماخذ سطخه یا Datum اکثره وخت دبحر سطخه فرض کیږي، خو کولای شو د اړتیا په وخت کې له بېلابېلو سطخو او نقطو څخه د ماخذ په توګه کار واخلو.


د نقطو عمودي فاصله د Datum line څخه که هغه ښکته وي او پورته د ساده لیول کارۍ reduced leveling په نامه یادیږي. او هغه عمالیه چې په هغې د ځمکې د سطخې د پاسه د نقطو تر منځ د ارتفاع تفاوت معلومیږي دلیولینګ په نامه یادیږي.

لیولینګ دلاندې هدفونو دلاسته راوړلو پاره کاروو.

- د کانتور نقشې د لاسته راوړلو لپاره ترڅو ددې نقشې په مرسته د سرکونو اوسپنې خطونو د اوبو رسولو او نورو ساختمانونو لپاره مسیر وټاکو.
- د نقطو د ارتفاعاتو د پیداکولو لپاره تر څو پوه شو دغه نقطې د ځمکې د سطخې څخه لاندې او که پورته واقع دي.
- د سرکونو، کانالونو او ریل پټلیو د طولي او عرضي نقشو د برابرولو لپاره ترڅو د ځمکنیو کارونو په خجم باندې پوه شو.
- د خط اندازۍ د ترسره کولو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لېول ماشين برخې په لاندې شکل کې لېدلای شی.




1.1: شکل

## ۱.۳. تعریفونه (Definitions)

### لیولینګ (Leveling)

د هغه هنر څخه عبارت دی چې د هغې په مرسته کولای شو د ځمکې پر مخ او یا د ځمکې د سطحې نه لاندې د مختلفو نقطو ارتفاعات پیدا کړو.

### لیول سطحه (Level Surface)

هر هغه سطحه چې د ځمکې د اصلي کروي سطحې سره موازي وي. یا هغه سطحه چې په هره نقطه کې د سمندر د اوسط سطحې سره موازي وي. ښه مثال يې د ولاړو اوبو سطحه ده.

### لیول خط (Level Line)

هغه خط چې د لیول سطحې دپاسه تیر شي چې نوموړی خط د شاقول په خط (د ځمکې د جاذبې په جهت) باندې عمود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## افقي سطحه (Horizontal Plane)


هغه سطحه چې د لېول سطحې سره په هره نقطه کې مماس وي دلېول سره په هره نقطه کې مماس وي. افقي سطحه بلل کیږي.

## افقي خط Horizontal Line

هغه خط چې د افقي مستوی دپاسه و ښودل شي افقي خط بلل کیږي. نوموړی خط یو مستقیم خط وي او د لېول خط سره مماس وي.

## عمودي خط Vertical Line

هغه خط دی چې د عمودي مستوی د پاسه و ښودل شي نوموړی خط په افقي خط پاندې عمود وي.




شکل : 1.1

## بېنچ مارک (Bench Mark BM)

د هغې ثابتې نقطې څخه عبارت دی چې ارتفاع یې د سمندر د اوسط سطحې او یا کومې بلې فرضي سطحې څخه معلومه وي. نوموړې نقطه ډېره مهمه ده چې د سرکونو، رېل پټليو او نورو ساختمانونو دسروې د کارونو لپاره د نوي Reduced Level په پیدا کولو کې ورڅخه زیاته استفاده کیږي.

### دبېنچ مارک ډولونه


- ✓ دايمي بېنچ مارك (Permanent Bench Mark)
- ✓ موقت بېنچ مارك (Temporary Bench Mark)
- ✓ لوی مثلثاتي سروې بېنچ مارك (Great trigonometry Bench Mark)

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓ فرضي بېنچ مارك (Arbitrary Bench Mark)

### لوی مثلثاتي سروې بېنچ مارک (Great trigonometry Bench Mark GTS)


هغه بېنچ مارك دی چې د دولتونو له خوا په لوړ دقت او لوی انټروال سره د هیواد په مختلفو برخوکې تاکل کیږي.




3.1: شکلGTS BM

### دایمي بېنچ مارک (Permanent Bench Mark)

د هغې ثابتې نقطې څخه عبارت دی چې د دولتي ادارو لخوا د هیواد په مختفو برخو کې تاکل کیږي. ددې نقطې ارتفاع د GTS BM په مرسته ټاکل کیږي او په داسې ځایونو کې لیکل کیږي چې هغه دایمي وي لکه د تعمیرونو د کرسي برخه دپلونو په بغلي دیوالونو




4.1 شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موقت بېنچ مارک** (Temporary Bench Mark)

د هغه بېنچ مارك څخه عبارت دی کرېم چې د ورځې په اخر کې ټاکل کیږي چې عموماً د ونو په بېخونو، دیوالونو او ورته نورو ځایونو باندې لیکل کیږي.

**فرضي بېنچ مارک** (Arbitrary Bench Mark)

که د ځینو ثابتو نقطو ارتفاعات په فرضي ډول وټاکل شي فرضي بېنچ مارك بلل کیږي. له دغه بېنچ مارك څخه د کوچنیو سروې ګانو او دځمکې د خالت د معلومولو لپاره استفاده کیږي.

**شا خواته قراءت** (Back Sight BS)

د هغه قراءت څخه عبارت دی کوم چې د ماشین د عیارولو څخه وروسته د لومړي ځل لپاره اخیستل کیږي. یا هغه قراءت ته وایي کوم چې دیوې معلومې نقطې دپاسه اخیستل کیږي.

**مخې خواته لوستل** (Fore Sight FS)

د هغه قراءت څخه عبارت ده چې د لېول ماشین د عیارولو نه وروسته د وروستي ځل لپاره اخیستل کیږي. یعنې چې ماشین به نه تغیر شوی


**منځني قراءتونه** (Intermediate Sight IS)

هغه قراءتونه دي کوم چې د BS او FS په منځ کې اخیستل کیږي. او شمېر یې دیو څخه زیات وي.

**بد لیدونکي یا تا ویدونکي نقطه** (Change, Turning Point)

CP, TP هغه نقطه ده چې د لېول ماشین د ځای دتغیر ښودنه کوي. یا هغه نقطه ده چې یو ځل FS او بل ځل BS وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




5.1 شکل

### د لېول ما شين ارتفاع (Height Of Instrument HI)

کله چې لېول ماشين په مکمل ډول عيار شي د Line of Collimation ارتفاع ته د لېول ماشين ارتفاع ويل کيږي. چې د BS او BM د جمع کولو څخه په لاس راځي.

## ۱.۴ په موقتي توګه د لېول ماشين عيارول (Temporary Adjustment of Level)

د قراءت اخيستلو څخه مخکې لېول ماشين په هر ستېشن کې عياريږي، چې دغې عمالیې ته په موقته توګه د لېول ماشين عيارول ويل کيږي. چې په لاندې مراحلو کې تر سره کيږي.

### د لېول ماشين د عيارولو مرحلې

1. د لېول ماشين لپاره ديوه مناسب ځای ټاکل (Selection of Suitable Position)
2. د لېول ماشين نصبول د سه پايې په سر (Fixing the Level with Tripod)
3. د پښو په واسطه په تقريبي ډول عيارول (Approximate Leveling By Legs of Tripod)
4. د لېول عيارول په مکمل ډول د مېښونو په مرسته (Perfect Leveling By Foot Screw)
5. د Eye Piece متمرکز کول (Focusing The Eye Piece)
6. Focusing the Object Glass
7. د قراءت اخيستل (Taking the Staff Reading)

**هغه نقطې چې بايد د Staff Man لخوا په نظر کې ونيول شي**

- ستاف بايد دستهافمبن له خوا په دواړو لاسونو عموداً په نقطه باندې ونيول شي او دای يې شاته ودريږي.
- د ستاف په خلاصولو کې بايد دقت وشي.
- د ستاف څخه لاندې ځمکه بايد صافه او کلکه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه نقطې چې باید د** Level Man **له خوا په نظر کې و نیول شي**.


- ✓ لېول ماشین باید په داسې ځای عیار شي تر څو دهغه ځای څخه اعظمي استفاده وشي. یعني وکولای شي چې زیات قراءتونه تر واخلي.
- ✓ لېول ماشین باید په ډیره لوړه او یا ټیټه نقطه عیار نشي.
- ✓ راډ باید په بشپړه توګه عمود وي.
- ✓ کله چې قرایت اخلی باید په لېول ماشین کې Bobble ته متوجه شي چې په مرکز کې ده اوکنه.

## ۵.۱. **د لېولېنګ د عمالیو ډولونه** (Types of Leveling Operations)

a. ساده لېول کاري (Simple Leveling)
b. تفاضلي لېول کاري (Differential Leveling)
c. Fly Leveling
d. پروفایل لېول کاري (Longitudinal or Profile Leveling)
e. Cross Sectional Leveling
f. له دوه خواو لېول کول ( Reciprocal Leveling)

### a) **ساده لېول کاري**

کله چې د دوه نقطو ترمنځ پیداکوو نو د ساده لېول کارۍ څخه استفاده کوو. یعنې لېول ماشین ورته په منځ کې ودروو او د ارتفاع تفاوت یې پیداکوو.




$$\Delta h = a - b$$


6.1 شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

### b) تفاضلي لېول کاري (Differential Leveling)

په دې ډول لېول کولو کې آله په يو ځای کې کېښودل کيږي او لېول کيږي بيا ددې ليول آلې مخې ته په هغه نقطه چې ارتفاع يې معلومه وي(BM ) باندې ستاف نيول او نښه کيږي، نښه شوی قيمت د BM د ارتفاع سره جمع کوو ترڅو د آلې ارتفاع په لاس راشي. وروسته له دې ستاف په هغه نقطه چې ارتفاع يې مطلوبه د آلې د ځای څخه نښه کيږي او دغه نښه شوی قيمت د آلې د ارتفاع څخه تفريق کيږي ترڅو د مطلوبې نقطې ارتفاع په لاس راشي.

آله مخې خواته بل ځای ته انتقاليږي اوپه همدې تر تيب مخې خواته او شا خواته قراءتونه اخيستل کيږي او د نقطو ارتفاعات هم تر لاسه کيږي. خو د آلې د انتقال پر ځای کې نوی BS د هماغه نقطې د ارتفاع سره جمع کوو ترڅو نوی د آلې ارتفاع تر لاسه شي. پدې توګه خپلې سروې ته د پروژې تر پايه ادآمه ورکوو.




7.1 شکل

### c) Fly Leveling

کله چې د تفاضلي ليول کارۍ عمالیه تر سره شي، نو بينچ مارك د پروژې د پيل او پای سره وصل کيږي دغه عماليې ته Fly Leveling وايي. دغه عماليه د کوردیناتو د چيك په خاطر ترسره کيږي. او يواځې د BS او FS قيمتونه اخيستل کيږي او فاصلې هم نه اندازه کيږي.

### d) پروفايل لېول کاري (Longitudinal or Profile Leveling )

د مستقيم لېول کولو يو ډول ده او د هغه نقطو د ارتفاع لپاره په کار وړل کيږي چې په يو مستقيم خط واقع وي. لکه سرك، کانال، داور ګاډي پټلۍ او نور. دغه نقطې په يوه منظم انټروال(5m,10m,20m,50m,100m) متره فاصلو کې اخيستل کيږي. چې په هموارو سيمو کې د لوی انټروال او په نا منظمو ساخو کې د کوچني انټروال څخه استفاده کيږي. همداراز ددغه مسير په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو هغو نقطو کې چې ساختمان موجود وي لکه پلونه، پلچکونه، د سرکونو دتقاطع نقطې اونورو کې باید قراءتونه واخیستل شي او د دغه نقطو ارتفاع معلومو، ټولې هغه نقطې چې د مبداء څخه 100m فاصلې لري د مکملو سټیشنونو په نوم او نورې نقطې د نا مکملو سټیشنونو په نوم یا دیږي مثلاً د 960m په فاصله نقطه د 60+ 9 نقطې په نوم یادیږي. چې د مثبت علامې چپ خواته 9 عدد د 100m نماینده ګي او ښي خواته 60 عدد د مترو نمایندګي کوي.

Cross Sectional Leveling (e


د لېول کارۍ هغه عمالیه ده چې په هغې کې ارتفاعات د مرکزي خط دواړو خواوو ته په عرض کې اخیستل کیږي عرضي قطع په یو معلوم انټروال کې اخیستل کیږي لکه (20m,30m,40m ) مترو کې. عرضي قطع ددې لپاره اخیستل کیږي ترڅو د مرکزي خط دواړو خواوو ته د ځمکې په وضعیت پوه شو.


(f  له دوه خواو لېول کول (Reciprocal Leveling )

د A او B ترمنځ فاصله چې د یو مانع(خنډ) په دوه خواو کې پرتې دي، مطلوبه ده (8.1. شکل ) که نوموړي نقطې د یوه بل ځای څخه دلېدلو وړ وي نو آله په یوه نقطه مثلاً د A په نقطه کې کېښودل کیږي او په دقیقه توګه لېول کیږي. په داسې خال کې چې افقي زاویه مساوي صفر شي د ځمکې پرمخ د C نقطه داسې ټاکل کیږي چې د آلې د ځای څخه د L معلومه فاصله ولري.

آله د A نقطې څخه د C نقطې ته انتقالیږي، دقیقاً لېول اوبیا د A او B په نقطو کې د سټاف ریډینګ لوستل کیږي او د نوموړو نقطو ترمنځ د ارتفاع تفاوت پیداکیږي. تردې وروسته آله د C نقطې څخه B نقطې ته انتقالوو او لېول کوو یې د B نقطې څخه د L په فاصله د D نقطه ټاکل کیږي.

آله د B څخه D نقطې ته انتقالیږي او تر دقیقاً لېول کولو وروسته د A او B نقطو کې قراءتونه اخیستل کیږي او دلته هم د ارتفاع تفاوت پیداکیږي.د پورته پیدا شوو دوه تفاوتونو د اوسط څخه د A او B د نقطو د ارتفاع تفاوت په لاس راځي. په هغه صورت کې چې زیات حساسیت مطلوب وي باید د نښه کولو شمېر زیات شي.






8.1 شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲. ټوټل سټيشن (Total Station)

## ۲.۱. د ټوټل سټيشن پيژندنه

**تعريف:** دهغه الکترونيکي الې څخه عبارت ده چې د هغې په مرسته کولای شو ديوې ټاکلې نقطې څخه د نورو نقطو موقعيت و ټاکو. يا ټوټل ستېشن د لېول او توديولېټ پر مختللی شکل او جوړښت دی.

Principle of Total station: Distance = Velocity x Time

### د ټوټل سټيشن برخې (Parts of Total Station)




1.2. شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پرزم** (reflector)

دا یوه عیاریدونکي مېله ده چې په سر کې ستاف لري او د ستاف په منځ کې یوه شیشه لري چې د نقطو په موندلو کې مرسته کوي.

**سه پایه** (tripod)

د المونیم او یا سپك لرګي څخه جوړ شوی د دریو پښو ساختمان دی چې چوکاټي اتصال لري. دپښو په لاندې برخه کې اوسپنیزې څوکې لري ترڅوکې په ځمکه کې په اسانۍ سره ښخې شي.



2.2. شکل

Battery –as an external attachment

1.5hours charged battery can work for 3to 5 hours

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ACCURACY OF TOTAL STATION

More accuracy can be achieved by:

1. Careful Centering
2. Accurate pointing target
3. Average of multiple points
4. Better optical lenses
5. Strong Tripod
6. Verticality of prism pole

Angular accuracy is from 1 to 20 Sec.

Linear accuracy is from 2mm to 10mm/per KM

Different instruments have different accuracy

| Model | **Angular** | **Linear** | |
|---|---|---|---|
| | | **With 1 Prism** | **With 3 prisms** |
| NIKON | 1 Sec | ± 2 mm | ± 1 mm |
| LIEKA | 1 Sec | ± 2 mm | ± 1 mm |
| SOKKIA | 1 Sec | 2 mm | ± 1 mm |

**Accuracy varies with Price**

**Distance measure with:**

Single Prism – up to 2.5 Km

Two prisms - 5 to 7 Km

Three prisms - 10 to 12 Km

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲.۲. د ټوټل سټیشن د کیبورډ تشریح (Keyboard)

د ټوټل سټیشن هغه دړه ده چې بېلا بېلې توکمې(بټنې) لري.

### د کیبورډ د بټنو تشریح

ON / OFF : ددې بټن په واسطه ماشین پند او چالان کولای شو.

☼ : Light د دې توکمې په واسطه د ټوټل سټیشن سکرین روښانه کولای او تیاره کولای شو.

ESC : د دې توکمې په واسطه دیوې صفحې یا کمانډ څخه خارېج کیدلی شو.


B.S : د دې توکمې په واسطه د لیکنې خروف ډیلېټ کولای شو. یعنې کله چې مونږ د لېکنې په وخت

کې علطي ترسره کړو نو بیا ددې بټن پواسطه ړنګولای شو.

Shift : د دې توکمې په واسطه کولای شو غټ خروف په کوچنیو او یا خروف اعدادو ته تبدیل کړو . او د Shift بټن بله مهمه وظیفه دا ده چې د پرزم ډول پرې بدل کړو یعنې کله چې د پرزم څخه استفاده کوو، نو پرزم ته او کله بغیر د پرزم څخه نقطې اخلو نو بیا یې نان پرزم ته بدلوو.

FUNC : : ددې توکمې پواسه فرعي صفخې بد لیږي. $P_1$, $P_2$, $P_3$

ENT : ددې توکمې پواسطه صفخو ته داخلیدای شو، البته عمودي درج شوو صفخو ته او همدا راز نوره ډاټا هم ټوټل ته پرې دا خلولی شو. $F_1$, $F_2$, $F_3$, $F_4$ توکمې هم د انتر وظیفه اجراء کوي خو د افقي مینو ګانو لپاره.



: Arrow Key ددې بټن په واسطه افقي او عمودي دواړو لورو ته په ښي او چپ طرف خرکت کولای

شو. دپورته ذکر شوو بټنو سربېره ټوټل سټیشن نورې زیاتې توکمې لري چې هره یوه یې، ځانګړې وظیفه اجراء کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Functions of T.S

1. It simultaneously measures angles & distances and Record

2. Correcting the measured distance with:

1. Prism constant

2. Atmospheric Pr.

3. Temperature

4. Curvature of earth

5. Refraction correction

3. Computing the point elevation

4. Computing the coordinates of every point

5. Remote elevation measurement

6. Remote distance measurement

7. Area calculations

8. Data Transferring facility from instrument to S/W and S/W
   To instrument

9. Format of conversion of units

## Application of Total station

Updating mapping

Topographic survey

Hydrographic survey

Cadastral survey

Project construction survey

Road, Rail Survey

Mining survey

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲.۳. د ټوټل سټېشن عیارول (Adjustment of Total Station)

**په BM برابرول**

- ✓ مخکې له دې چې ټوټل په سه پایه بسته کړو، د درې پایې د پلېټ په سوري کې BM پیداکوو او وروسته ماشین بسته کوو.
- ✓ خپله پښه د BM سره نیږدې یږدو او په عمودي عدسیه کې یې ګورو.
- ✓ BM چې د پښې په کوم طرف کې وي د ماشین د سه پایې دوه پښې نیسو او هماغه طرف ته خرکت ورکوو. ترڅو BM د عدسیې د دایرې په داخل کې راشي.
- ✓ ماشین باید په BM داسې عیار شي ترڅو د ټوټل د Title د غلطۍ مقدار صفر شي.
- ✓ اوس باید ماشین لېول هم شي، نو د ماشین ابترازو د دایرې داخل ته بیایو.
- ✓ لنډه دا چې ټوټل باید د نقطې اخیستلو څخه مخکې لېول او په یوه BM برابر وي

## ۲.۴. د ټوټل سټېشن ترتیبول (Total Station's Configuration)

کله چې ټوټل سټېشن ماشین په BM برابر او لېول شي نو باید بیا ورته د خپلې خوښې واخد (Unit) تاریخ (Year)، وخت (Time) او د کوردیناتو ډول (N–E–Z, E–N–Z) ور وپېژندل شي.

Procedure: main page + $F_4$ (for CNFG) +UNIT + ENTER

1. Temperature
2. Pressure
3. Angle
4. Distance

## ۲.۵. د کاري فولډر جوړول (JOB)

کله چې مونږ د یوې پروژې سروې کوو نو لومړی باید کاري فولډر جوړ کړو ترڅو زمونږ ډاټا په همدې فولډر کې ثبت شي.

Procedure: main page + $F_3$ (for DATA) + JOB+ ENTER

1. JOB Selection

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. JOB details

3. JOB deletion

4. Comms out put

5. Comms setup

د JOB Selection په واسطه مونږ خپل کاري فولډر انتخابولی شو، د $F_1$ په واسطه لېست هم خلاصولی شو.

Method: main page + $F_3$ (for DATA) + JOB+ ENTER+ JOB Selection+ ENTER+ $F_1$

(For list)

کله چې لېست خلاص شي په دغه لېست کې دوه ډوله فولډر وجود لري. يو يې خپل مخته د ستوري علامه لري او بل يې نلري، هغه چې دستوري علامه لري مانا دا چې دهغه فولډر ډاټا نه ده انتقال او ثبت شوي.

## کاري فولډر ته د خپلې خوښې نوم ورکول

کله وغواړو فولډر ته د خپلې خوښې او يا هم د پروژې مربوط نوم ورکړو نو په لاندې ډول عمل کوو.

Procedure: main page + $F_3$ (for DATA) + JOB+ ENTER+ JOB details+ Enter+ look for

Job name+ $F_4$ (for ok)

## د کاري فولډر ډيليټ کول

Procedure: main page + $F_3$ (for DATA) + JOB+ ENTER+ JOB deletion+ select a job

Name+ enter to delete.

**Comms out put**

Procedure: main page + $F_3$ (for DATA) + JOB+ ENTER+ Comms out put+ S–Type+

Enter+ ok+ obs data then star is remove and we can delete this job

(c) ketabton.com: The Digital Library

In job deletion

**د** DATA **لیږدول** USB **ته**

که وغواړو دخپلې سروې معلومات پلش ته انتقال کړو.

Procedure: main page+ USB+ S–TYPE+ SAVE DATA+ WON JOB+ OK+ OK+ OK+ YES.

په پورته توګه به ټوله ډاټا پلش ته انتقال شي چې کولای شو په کمپوټر کې ترې استفاده وکړو.

## ۲.۶. د ټوټل سټیشن په واسطه د مساحت پیداکول (Area Calculation by TS)

د ټوټل ماشین په واسطه کولای شو چې د ډیرې لوې او پیچلې ساخې مساخت په ډیرې اسانۍ سره پیدا کړو.

**پروسیجر(کړنلاره)**: د اصلي صفحې څخه د ESC بټن په واسطه ووځو او$P_2$ فرعي صفحې ته ځو.

د $F_1$ تنۍ په واسطه MENU ته داخلیږو.

بیا Area Calculation دوه ځله انټر کوو.

دساخې د نقطو اخیستلو لپاره لومړی OBS د $F_4$ په واسطه انټر کوو.

اوس ماشین مربوطه نقطې ته متوجه کوو او د $F_3$ د ټولو نقطو MEAS اخلو په پای

کې یې د $F_2$ په واسطه CALC انټر کوو اوس نو دوه ډوله مساختونه په لاس راځي یو

H AREA (Horizontal Area) او بل یې Slope Area که چیرې زمونږ د سروې

ساخه همواره وي نو بیا H Area اوکه غریزه وي نو Slop Area انتخابوو.


## ۲.۷. د ټوټل سټیشن په واسطه د ارتفاع پیداکول (REM)

REM= Remote Elevation Measurement هغه کمانډ دی چې د هغه په واسطه مونږ د ډیرو لوړو بناوو او تعمیراتو ارتفاع پرته له دې چې دهغوی سرته پرزم ور وړو پیدا کړو.

Procedure: main page+ $F_1$(go to $P_2$) + $F_1$(for MENU) + REM+ ENTER

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته به د آلې او ټارګیټ دواړه ارتفات ورته معریفي کړئ. وروسته تلسکوف ټارګیټ ته متوجه کړی او د $F_4$ په واسطه MEAS انټرکړئ، بیا تلسکوف ته عموداً پورته خواته تر مطلوبې نقطې پورې حرکت ورکړئ او هلته REM پریس کړئ نو ماشین په اتومات ډول د هغه جسم ارتفاع درکوي.




3.2. شکل

## ۲.۸. د کوردیناتو دا خلول په TS کې

کله چې ټوټل ستېشن ته د BM او BS کوردینات داخلوو نو په لاندې ډول عمل کوو.

Procedure: main page+ESC/$F_1$(go to page1)+$F_4$( for cord)+ Occ Orien+ enter

د BM د نقطې کوردینات چې ماشین پرې ولاړ دی او کوردینات یې له مخکې څخه د GPS په واسطه اخیستل شوي دي ماشین ته معریفي کوو. په PT کې ددغه نقطې نمبرچې یو دی ورکوو، په HI کې د ماشین ارتفاع ورکوو، د ERRO KEY په واسطه لاندې راځو په CD د BM1 نمبر ورکوو او په OPERATOR کې دسروې د اجراء کوونکي نوم ورکوو. کله چې د STATION د نقطې کوردینات مکمل شول اوس لاندې راځو او BS-NEZ ته به د F3 بټن په داسطه داخل شو او کوردینات په یې ورکړو. یعنې دا زمونږ دویم $BM_2$ شو. وروسته OK کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ماشین تاته رهنمايي کوي چې د BS کوردینات واخله نو افقي زاويه به صفر کړي او MEAS به د $F_4$ په واسطه انټر کړي. نو ماشين تاته غلطي درکوي چې مخې خواته لاړ شه يا وروسته. که نقطه خارج ته واقع وي نو علامه مثبت او که داخل ته وقع وي نو د غلطۍ علامه منفي درکوي. کله چې غلطي صفر شي نو YES به يې کړې پدې توګه ټوټل ستيشن ته د BM او BS کوردينات داخلشو او دنورو نقطو دا خيستلو لپاره Observation وهو او سروې ته ادامه ورکوو.

## ۲.۹. د ټوټل ستيشن په واسطه توپوګرافي سروې (Topographic Survey)

د هغه سروې څخه عبارت ده چې په هغې کې د ځمکې په د ټولو طبيعي او مصنوعي جسمونو موقعيت د نقشي پرمخ وټاکل شي. کله چې د کومې ساخې توپوګرافي ترسره کوو نو بايد ماشين په مکمل ډول عيار کړو، مونږ کولای شو چې د coord کمانډ په واسطه ديوې ساخې توپوګرافي ترسره کړو. خو مخکې له مخکې بايد د دوه BM بيېمونو کوردينات ولرو ترڅو ټوټل ته هغه معريفي کړو او نور د هغه BM بيېمونو مطابق سروې ته دوام ورکړو.

Procedure: main page+ ESC (go to $p_3$)+ TOPO+ COORD DATA+ ENTER+ Target–Prism+ $F_4$ (For MEAS)+ $F_1$ (For Rec)

په پورته توګه ديوې نقطې کوردينات ثبت شول او دنورو نقطو دثبت لپاره په همدغه پروسيجر مخکې ځو، خو کله چې توپوګرافي سروې اجراء کوو نو د آلې انتقال ته خامخا اړتيا پيښيږي نو کله چې آله تبديل شي الې ته بايد خپل موقعيت ور معريفي کړو. لومړی د هغه نقطې چې مونږ غواړو اله ورته انتقال کړو د AUTO په واسطه قراءت اخلو او نوم ورکوو، بيا ماشين هغه نقطې ته انتقالوو او په هماغه نقطه باندې يې لېول کوو، اوس ددغه نقطې کوردينات په Occ– Orientation کې ورکوو او يا يې د Load څخه اخلو. نو دا به زمونږ د ستيشن يو نقطه شي. وروسته BS په هغه نقطه اخلو چې يو ځل مو د لومړي BM څخه اخيستي وي.

د توپوګرافي سروې په جريان کې مونږ کولای شو چې د MEAS او AUTO دواړو په واسطه قراءت واخلو خو فرق يې په دې کې دی چې که د MEAS په واسطه يو نقطه اخلو نو بايد چې بيا يې REC کړو او که د AUTO په کمانډ يې اخلو نو نقطه په خپله REC کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲.۱۰. د ټوټل سټېشن په واسطه خط اندازي( S-O Line)

ددې په واسطه کمانډ په مرسته کولای شو چې د ډېرو پېچلو ساختمانونو او بناوو خط اندازي ترسره کړو. لومړی به ټوټل سټېشن په يوه BM باندې په مکمله توګه عيار کړو

Procedure: main page+ FUNC (go to $P_2$)+ S–O Line+ enter+ Define Base line+ first–Point+ $F_4$(for OK)+ Define second point+ ok

Scale بايد طبيعي وي يعنې د x او y په دواړو مخورونو بايد يو يو قيمت ورکړل شي. او بل د لته دوه اپشنه درکوي( point, Line)

Point: هغه وخت استفاده کوو چې ماشين په اساسي خط نه وي واقع.


Line: ددې څخه هغه وخت استفاده کوو چې ماشين په اساس خط باندې واقع وي خو اساس خط بايد دومره لوی وټاکو چې د تعمير د اوږدو لوري څخه لوی وي.

کله چې Point انټر کړو نو بيا لاندې درې اپشنه درکوي

Incr: ددې قيمت هر وخت يو ورکوو.

Line: د ا د لومړی نقطې څخه د ټاکونکي نقطې فاصله ښايي.

Offset: دا د اساس خط څخه د نقطې ليرې والی ښايي. که نقطه د نوموړی خط دپاسه واقع وي نو offset صفر کوو.




که چېرته ټوټل په $P_1$ نقطه کې ولاړوي.

د $P_2$ نقطې دپيداکولو لپاره

Length= 5m

Offset= 0

شکل 4.2.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د A نقطې د پیداکولو لپاره

Length= 0

Offset= 3m

د B نقطې د پیداکولو لپاره

Length= 5m

Offset= 3m

نو پورتنۍ اندازې چې کله ورکړل شي ok کوو یې او بیا s-o د $F_4$ په واسطه انټر کوو او OK کوو یې نو اوس به افقي زاویه صفر کړئ. او یو تقریبي قراءت د MEAS پواسطه اخلو نو په سکرین کې د دغه نقطې لېرې والی او نیږدې والی ښودل کیږي. که نقطه خارج ته واقع وي نو علامه مثبت او که داخل ته وقع وي نو د غلطۍ علامه منفي درکوي. کله چې غلطي صفر شي OK به یې کړئ او هلته یو 60cm میخ ټکوهئ. دنورو نقطو لپاره همداسې عمل کوو.

## ۲.۱۱. MLM (Missing Line Measurement)

د MLM پوواسطه دیوې اساسي نقطې څخه دساخې دنورو ټولو نقطو افقي فاصله،مایله فاصله،او دارتفاع تفاوت پیداکولی شو. دغه کمانډ په لیول کارۍ کې استعمالیږي

دمثال په ډول غواړو یوه ساخه چې لوړې ژورې لري لیول کړو نو د ډیزاین نقطه ټاکوو لمړۍ قراءیت داساس په نقطه اخلو ټوټل سټیشن دنورو ټولونقطو فاصلې او دارتفاع تفاوت نظر اساس نقطی ته راښایي. که د ارتفاع تفاوت علامه مثبت وه نو نوموړی نقطه داساسي نقطې څخه پورته واقع ده، اوکه قیمت یې منفي وي نو لاندې واقع ده. ددې کمانډ رول دتهداب په لیول کې ډیر مهم دی.

**د MLM داستعمال طریقه**

د F1 بټن پواسطه مینیو ته داخلیږو

د Arrow Key بټنو څخه په استفاده MLM پیدا کوو،او انټر کوو یې

ماشین اساسي نقطې ته متوجه کوو او بیا د F3 بټن پواسطه MEAS اخلوو

ماشین دسطحې نورو نقطو ته متوجه کوو او MLM اخلو

SD: Slope Distance

HD: Horizontal Distance

(c) ketabton.com: The Digital Library

VD: Vertical Distance

## ۲.۱۲. 0-SET (Theta Set)

**دندې يې:** ددې کمانډ پواسطه کولای شو چې په ساخه کې په مختلفو زاويو خطونه رسم کړو. او بيلا بيلې زاويې پرې اندازه کولی شوو.

**دکارولو طريقه يې:**

I. لومړی SHV د F2 پواسطه انټرکو.

II. ماشين مطلوبې نقطې ته متوجه کوو.

III. دوه ځلې 0–SET د F3 بټن پواسطه انټر کوو، نو زاويه صفر کيږي.

IV. اوس کوم جهت ته چې مونږ غواړو زاويه رسم کړو، ماشين ته دوران ورکوو او دتلسکوپ په جهت په مطلوب ځای کې ميخ ټك وهوو.

## ۲.۱۳. **دقوس رسمول** ( S-O ARC )

ددې کمانډ پواسطه موږ د ګولايې يا قوس خط اندازې کولای شو.

طريقه يې: مينو ته ځو او هلته S–O ARC انټر کوو نو لاندې صفحه خلاصيږي.

OCC– orientation

Define arc

Set–out–arc

Define arc انټر کوونو لاندې صفحه خلاصيږي.

From point

NP

EP

ZP

له کومې نقطې چې ګولايې پيل وي هلته MEAS اخلو او OK کوو يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا Select pt TO انتراو OK کوو.

نو لاندې صفحه

خلاصیږي.

Direction

Radius

Angle

Arc

Chord

**Direction**: دا معنا لري چې د شروع د نقطې څخه ماشین ته په چپ طرف دوران ورکولو قوس رسموې اوکه په ښي طرف (L/R, R/L) نو کوم طرف کوم طرف ته چې غوښتل شوی وي انتخاب يې کړئ

**Radius**: که د قوس شعاع درکړل شوي وه نو د شعاع قیمت ورکړئ نور ټول ماشین په خپله اخلي.

**Angle**: که زاویه درکړل شوی وه زاویه ورکړه نور ټول قیمتونه ماشین خپله اخلي.

**Arc**: کله چې قوس درکړل شوی وي

**Chord**: کله چې د قوس اوږد قزر درکړل شوی وي.

دپورته قیمتونو د داخلولو څخه وروسته OK ووهئ. او لاندې صفحه درته خلاصیږي.

Tncr=1

Arc

Offset

که غواړی قوس یا ګولایي په یوه معینه فاصله کې په نښه کړی مثلآ هرو 2m مترو کې نو په Arc کې به 2m قیمت ورکړئ. او که Offset ته نو بیا د مرکزي قوس همجوار هر څومره قیمت چې Offset ته ورکړو په هماغه اندازه لیرې قوس راکوي. دپورته قیمتونو د داخلولو څخه وروسته OK ووهئ لمړی به زاویه صفر کړئ او ماشین به د قوس د شروع نقطې ته متوجه کړی او MEAS به واخلئ نو ماشین تاسو ته خپله غلطي درکوي همداسې نور تقریبي قیمتونه اخلونقطې په نښه او دوام ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Limitations

It is not a Rugged instrument (Sensitive)

Prism verticality is questionable

Visibility is must

More Expensive

Requires calibration at every six months

Amount of error is greater at short distances

Height of instrument and prism is to fed

Awareness on battery maintenance

To establish north- compass is required

## د خوندیتوب خبرتیاوې (SAFETY PRECATIONS)

1. دنقطو متمرکز کول(FOCUSING) په لمر کې ددې لامل کیدلی شي چې دسترګو نظر مو له لاسه ورکړی، نو هیله ده د لمر ضد عینکې استمال کړئ.

2. هیڅکله هم دټوټل سټیشن لاستی په بې اخطیاتۍ سره په لاس کې مه نیسئ، ځکه که چیرته آله په تاسو باندې در پریوځي شاید دجدي زخم لامل مو وګرځي.

3.مطمین اوسی چې د بطرۍ ترمینل به مو شارټ نه وي، ځکه که ترمینل شارټ وو نو نه یوائې دا چې بطري به مو خرابه کړي بلکې امکان لري آور لګیدنه رامنځته شي.

4. که چیرې آله اویا بطري د اوبو سره ولګیږي نو څومره ژر چې امکان لري، باید هغه وچ کړو او دیو څه وخت لپاره یې په وچ ځای کې وساتو.

5. که په ماشین کې کوم مشکل پیدا شول نو په خپل سر یې مه خلاصوئ بلکې لومړی یې له پلورونکي سره په نماس کې شئ.

## څه ډول کولای شو د ټوټل سټیشن کارونه اداره کړو(How to Supervise TS works)

1. د راډ مین په کړنو باید پوره نظر ولرو، اوکه دیر دقت غوښتل شوی وي نو بیا د سټاف لپاره هم سه پایه استمالوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د پرزم موقعیت باید هر وخت په کلکه سطحه باندې وي نه په نرمه خاوره.

3. متمرکز کونه Focusing باید د پرزم په سنټر کې وشي( د کراس خطونو او پرزم پلېټ په مرسته(

4. د آلې او پرزم د ارتفاع د اندازه کولو په وخت کې باید ډیر دقت وشي او همدا رنګه ټوټل ته ددغه ارقامو دداخلولو په وخت کې.

5. دسروې د معلوماتو څخه یوه Soft کاپي باید ولرو ترڅو دنظارت په وخت کې ترې استفاده وکړو.

## 3. GPS پیژندنه

Global Positioning System: یو نړیوال فضایي، مصنوعي سیارتي سېستم دی. چې کولای شو په واسطه یې د نړۍ په هر ځای کې دنقطو موقعیت وټاکو. یا په بل عبارت GPS دسروې لپاره یوه عصري آله ده چې د هغه په واسطه کولای شو د ځمکې پر مخ د هرې شته نقطې د موقعیت د ټاکلو لپاره طول البلد Longitude، عرض البلد Latitude او همدارنګه دبحر دسطحې نه دهغې نقطې ارتفاع پیدا کړو په هغه صورت کې چې د GPS او مصنوعي سپوږمکیو تر منځ خنډ موجود نه وي.

نوموړی سېستم د امریکا د دفاع وزارت لخوا په 1973 م کال کې را منځته شو. اوپه 1978 کې یې لومړی GPS بازار ته وړاندې شو.






1.3. شکل

### د GPS برخې

GPS د جوړښت او موډل د اعتبار له مخې مختلفې برخې لري چې ځینې یې په لاندې ډول تشریح کوو

1. On/Off, Power Key: هغه بټن ده چې کولای شو GPS پرې بند او چالان کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. **Rocker Key**: د Arrow Key بټن کار اجراء کوي يعنې کولای شو ښکته، پورته، ښي او چپې خواته حرکت پرې وکړو.

3. **Page Key**: دا بټن په سکرين کې مختلفو صفحو ته دتګ لپاره استعماليږي.

4. **Enter Key**: دا تنۍ د Screen د پاسه د انتخاب شوي پروګرام او يا پيغام د پاسه د عمل کولو لپاره استعمال کيږي.

5. **Zoom Key**: د نقشې د صفحې د لوی او کوچني کولو لپاره استعماليږي.

6. **Menu Key**: دا تنۍ په Screen باندې د صفحو دپاسه مختلفو Options ته د تللو لپاره پکاريږي.

7. **Find Key**: د صفحو د پيدا کولو لپاره پکاريږي.


8. **Quit Key**: د خلاصې شوې صفحې د ژر بندولو لپاره استعماليږي.

9. **Antenna**: د مصنوعي سيارې سره د ارتباط ټينګولو وظيفه اجراء کوي.

10. **USB Port**: د GPS او USB ترمنځ ارتباط ټينګوي.

11. **Data Port**: د کمپيو ټر سره د ارتباط لپاره ورڅخه استفاده کيږي.




2.3. شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱.۳. د GPS برخې

- ✓ فضايي برخه Space Segment
- ✓ کنترولي برخه Control Segment
- ✓ د کارکونکی برخه User Segment

**Space Segment**


24+ satellites

6 planes with 55° inclination

Each plane has 4–5 satellites

Broadcasting position and time info on 2 frequencies

Constellation has spares



3.3. شکل

### فضايي برخه (Space Segment)

هوايي برخه يې د مصنوعي اوربيتالونو کوم چې د ځمکې په منځنۍ اوربيتال کې ځای لري ترکيب شويده چې په تقريبي توګه د ځمکې له سطحې نه 20200 km ليرې ځای لري او خپل سګنلونه دځمکې د کرې مختلفو برخو ته خپروي. چې هره مصنوعي سپوږمکۍ يې په ورځ کې دوه دورانه ترسره کوي. او24+ سپوږمکيو له جملې څخه نيږدې اته مصنوعي سپوږمکۍ د ځمکې د سطحې په هره برخه کې هر وخت موجودې وي. دغه مصنوعي سپوږمکۍ د ځمکې څخه 12000 mile فاصله لري او 7000 mile/hr سرعت سره د ځمکې په شاوخوا باندې دوران ترسره کوي.

### کنترولي برخه (Control Segment)

په دې برخه کې لاندې برخې شاملې دي.


**1. Control Station**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**2. Dedicated Antenna**

**3. Detected Monitor Station**

نوموړې برخه د فضايي سپوږمکیو سره په منظمه توګه په اړیکه کې وي.




4.3. شکل

**د کارکونکي برخه (User Segment)**

په نوموړې برخه کې لس ګونه میلیونه کارکونکي د ځمکې پرمخ، هوا او اوبو کې شامل دي.

**User Segment:**

Over $19 Billion invested by DoD

Dual Use System Since 1985

(civil & military)

Civilian community was quick to take advantage of the system

Hundreds of receivers on the market

3 billion in sales, double in 2 years

95% of current users

DoD /DoT Executive Board sets GPS policy


(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل .5.3

### ۲.۳. د GPS ډولونه Types Of GPS

۱. **Single Frequency GPS**: هغه GPS دی چې ډیر لوړ دقت لري او د Antenna او Receiver لرونکی دی.



شکل .6.3

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. **Hand Held Set GPS**: هغه GPS چې عام استعمال لري او جوړښت يې موبايل ته ورته دی، مختلف ډوله معلومات پرې لاسته راوړلی شو لکه دیو ځای موقعیت معلومول، دلارې پیداکول، دخلکو دتګ مسیرTracking او وخت لپاره استعمالیږي.



7.3. شکل

## ۳.۳. د GPS څخه کار اخیستل

**GPS** په اوسني دور کې ډیر زیات استعمال لري چې دلته يې د څو وظیفو Functions څخه یادونه کوو لکه Mode Menu چې لاندې Functions لري.

**Tracks**: دغه کمانډ دسفر پرمهال استمالیږي (د مسیر په پیداکولو کې)

**High Way**: د سرك دسروې لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي.

**Setup**: ددې کمانډ په مرسته د GPS د واخداتو په سېستم کې او په ځینو نورو مهمو کمانډونو کې تغیر را وستلای شو.

**Calendar**: ددې کمانډ په مرسته میاشت، کال او وخت ترتیبولای شو.

**Alarm Clock**: ددې کمانډ وظیفه دا ده چې وخت پرې تنظیم کړو او د ځینو مهمو کارونو لپاره ځان ته د خبر داري په خیث زنګ هم پرې ولګاوو.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴.۳. د کوردیناتو سیستم (Coordinates System)

دځمکې پر مخ د هرې نقطې موقعیت د دوه کوردیناتو په واسطه ښودل کیږیچې یوه ته یې عرض البلد Latitude اوبل ته یې طول البلد Longitude وایي. چې د اندازه کولو واخد یې DMS(degree, minute, second) ده.

**عرض البلد (Latitude)**: هغه فرضي خطونه دی چې د ځمکې د کرې څخه شرقاً او غربًا تیریږي اوهغه غرض البلد چې د ځمکې د مینځ څخه تیریږي د استوا Equator(د ځمکې پر مخ دهغه فرضي کرښې څخه عبارت ده چې د ځمکې کره یې په دوه شمالي او جنوبي نیمو کرو ویشلې ده) د استوا کرښې په نامه یادیږي چې صفري عرض البلد قیمت لري.

**طول البلد (Longitude)**: هغه فرضي خطونه دي چې شمالاً او جنوبً د ځمکې د کرې پر مخ عځیدلي وي.او ددوي د منځ کرښه کومه چې د S-N څخه تیریږي د نصف النهار(Meridian) په نامه یادیږي. چې صفري طول البلد قیمت لري.




شکل 8.3.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

1. ددغه پایلیك د لیکلو څخه ما لاندې نتایج تر لاسه کړل.
2. دا چې د عصري ټکنالوژۍ څخه په اوس وخت کې د سروې په برخه کې ځومره په پراخه توګه استفاده کیږي.
3. د عصري تکنالوژۍ په استعمال سره د ځمکې دسروې په کارونو کې دقت بلخصوص په اندازه ګیرۍ کې.
4. د مهمو کارونو د لېول کارۍ عمالیې او ددوی په لېول کولو کې د لېول ماشین او ټوټل سټېشن استعمال.
5. د ځمکې په مخ د هر ډول نقطې د کوردیناتو پیداکول د GPS په مرسته.
6. د GPS او ټوټل سټیشن تر منځ د ګډ کار ښیګڼه او استمال.
7. د ټوټل سټیشن اصل او ددوی د مختلفو ډولونو د دقت اندازې.
8. د GPS د بېلابېلو ډولونو سره بلد تیا .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه

- دا چې سېول انجینري عملي اړخ لري، نو د پوهنتون د ادارې او استادانو څخه هیله لرم چې د بل کال لپاره د مونوګراف پر ځای پروژه ورکړي.
- مونوګراف لیکنه د محصلینو د تفتیش او پلټنې روحیه پیاوړې کوي، نو بناءً د ټولو محصلینو څخه مې هیله داده چې خپل مونوګرافونه په خپله او په ټاکلي وخت کې ولیکي.
- د سېول انجینري د لا ښه تدریس او زده کړو په موخه د خوست دعوت پوهنتون ته د یوه ټوټل ستېشن ضرورت دی، نو له ادارې څخه هیله لرم چې زما دغه وړاندې مد نظر ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مآخذونه


1. سروې او لېول کاري، انجينر سيد اکرام (۱۳۹۵ هـ ش)، ص.ص (۸۰ – ۱۳۹، ۳۲۸ – ۳۴۲).
2. سروېنګ لومړی ټوک، عبدالواحد حسنی او عبدالعظيم بهرامي. (۱۳۸۸ هـ ش). ص.ص (۹۳ – ۱۳۰).
3. سروېنګ دوهم ټوک، عبدالواحد حسنی او عبدالعظيم بهرامي. (۱۳۸۹ هـ ش). ص.ص (۱۵۴– ۱۵۵).
4. W. Schofield. (2001). ***Engineering Surveying 5th Edition***, pp. (43-115).
5. Charles D. Ghilani, Paul R. Wolf. (2008). '***Elementary Surveying***' pp. (73 – 81).
6. W. Schofield, M. Breach. (2007). ***Engineering Surveying 6$^{th}$ Edition***, pp. (42 – 60).
7. Aylmer, Johnson. (1998). '***Plane and Geodetic Surveying***' pp. (44-67).

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**